# د رحمان بابا کلام د علم بدیع په رڼا کښې

# Rehthoric Reflection in the Poetry of Rehman Baba

Shakeel Ahmad [1], Asif Jan [2]

Rahman Baba is rightly called the poet who had great command over all aspects of poetry and was one of the prominent poets of classical period of Pashto poetry. He has given place to different aspects of poetry with great skill and techniques. His poetry is the greatest example of eloquently, elegances, fluency, Atticism, rhetoric, oratory, sententiousness and conciseness. In this article I will try to put light on this aspects of Rahman Baba's poetry.

رحمان بابا د پښتو شعروادب د کلاسیکي دورې هغه ځلنده ستورے دے چې د کلام رڼا ئې د لوستونکیو ذهنونه روښانه کوي. د رحمان بابا کلام د وقار، عظمت، متانت، سنجیدګۍ، فطري ښکلا او زړهٔ راښکون نه ډک دے. د روانۍ، سادګۍ، برجستګۍ، عنایت، بې ساختګۍ، سلاست، اختصار، جامعیت او د یو شمېر نورو شعري خصوصیاتو سره سره د رحمان بابا په کلام کښې د بدیع ښکلا هم د کتو ده. په دې لیک کښې به د رحمان بابا د کلام په هم دغه علمي اړخ بحث کولے شي. خو د دغه بحث نه مخکښې د بدیع په حقله ځینې معلومات شریکول به بې ګټې نهٔ وي.

دریاب لغت د لفظ بدیع په حقله لیکي:

"بدیع (۱) عجیبه، ناویاته، انداز. (۲) د یو علم نوم چې پکښې د کلام معنوي او لفظي خوبۍ بیان شوې وي"۱۰

اورنګزیب ارشاد په خپل کتاب "بدیع او د پښتو شعر" کښې لیکي چې:

"بدیع د عربۍ ژبې لفظ دے او د عربو په لغت کښې نوي څیز ته وائي. چې د کلام د ښهٔ والي وجې پرې پېژندل کېږي"۲۰

---

1 Lecturer Department of Pashto U.O.P
2 Ph.D Reserch Scholar Department of Pashto U.O.P

"په اصطلاحاتو کښې دا يو داسې علم دے چې د شعر او د کلام ښۀ والے ترې څرګندېږي. په اسانه خبره کښې د علم بديع دا مطلب دے چې ليکوال په خپلو شعرونو کښې او په خپل کلام کښې داسې کمال اوکړي چې ښکلا، رنګيني او باريکي ئې په کلام کښې اوبرېښي او کلام په نوي رنګ کښې او په نوي انداز کښې خلقو ته وړاندې کړي"۳۰

"دا هغه علم دے چې د کلام په عارضي حُسن خبرې کوي. او د کلام ښائست او ښۀ والے او د نوي طرز د وېنا طريقو نه علاوه د کلام صنعتونه پرې معلومېږي. کار ئې دا دے چې دا کلام ولې ښائسته دے؟ او دا کلام به څنګه ښائسته شي؟ دې ته دالفاظو د جادوګرۍ علم وائي او د لفظي صنعت ګرۍ علم هم"۴۰

"د علم بديع دوه قسمونه دي. يو ته صنائع لفظي يعنې لفظي ښائست او بل ته صنائع معنوي يعنې معنوي ښائست وئيلے شي. دا په نظم کښې هم کېدے شي او په نثر کښې هم، ولې په نظم کښې په نسبت د نثر ډېر خوند کوي"۵۰

فضل مير خټک دغه دوه قسمونه د صنائع او بدائع په نوم راپېژني او ليکي چې:

"د دې علم دوه څانګې يا دوه قسمونه دي. يو لفظي حُسن چې صنائع ورته وائي، دوېم معنوي حُسن چې د بدائع په نوم پېژندے شي"۶۰

په دې خبره کښې هېڅ شک نشته چې شاعرانو به د خپل ذوق سره سم په الفاظو او کلمو لوبې او جادوګري کوله. او په لاشعوري توګه به په کلام کښې د بديع دخل ؤ، خو چې ورته باقاعده طور رواج ورکړے شوے دے او ورته د يو ځانله علم په نظر کتلے شوي دي نو دا د درېمې صدۍ هجرۍ په دوېمه نيمايۍ کښې شوي دي.

په دې حقله ډاکټر صابر کلوروي په کتاب "عروض و بديع" کښې ليکي چې:

"سب سے پہلے جس شخص نے کلام کے ان خوبیوں پر توجہ دی اور اسے باقاعدہ ایک علم کا درجہ دیا۔ اس کا نام عبداللہ بن معتز عباسی ہے جس نے 427 ھجری میں عربی زبان میں اس علم پر

ایک مفصل کتاب تحریر کی۔ عربی زبان کی مناسبت سے اس نے اولاً ستره صنائع وبدائع کا ذکر کیا ہے۔ لیکن جب اس علم کو ایران میں مقبولیت حاصل ہوئی تو متعدد نئے صنائع وبدائع دریافت ہوئے"۔٧

صنائع بدائع یا لفظي او معنوي صنعتونه د کلاسیکي شاعرۍ یوه زبردسته خوبي ده. هم دغه وجه ده چې د هر قادر الکلام شاعر په کلام کښې دغه خوبۍ لیدلے شي او یو شمېر شاعرانو د دې خوبیانو نه په خلاص مټ ګټه پورته کړې ده.

رحمان بابا د پښتو ژبې د هغه نامتو شاعرانو نه یو دے، د چا کلام چې د صنعتونو د ملغلرو یو درنګ دے. رحمان بابا په خپله شاعرۍ کښې رنګ رنګ صنعتونه داسې په مهارت، هنرمندۍ او بې تکلفۍ سره ځائے کړې دي چې د زور طبعیت نتیجه نۀ ښکاري. د صنعتونو برمحل استعمال د رحمان بابا کلام کښې فصاحت او بلاغت پېدا کړے دے. او د شعر خوبیانې ئې ورله یو په دوه کړې دي. بې ځایه به نۀ وي که د رحمان بابا د کلام نه د لفظي او معنوي صنعتونو څو بېلګې وړاندې کړے شي.

## لفظي صنعتونه

### صنعت تجنیس تام

په شعر یا کلام کښې داسې لفظونه راوړل چې په تلفظ، وزن، ترتیب او شکل کښې یو شان وي خو معنوي لحاظ سره جدا جدا وي، تجنیس تام بللے شي. لکه د رحمان بابا دا شعرونه:

ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي
لړ مې اوپوښته له حاله چې ولې دي٨

تن ئې پاتې شي بې سره، سر ئې لاړ شي
سردار کله دے سردار د دې دنیا٩

په اولني شعر کښې دوه ځله لفظ "ولې" راغلے دے چې وړومبے د وله او دويم د څنګه په معنیٰ دے. دويم شعر کښې لفظ "سردار" دوه واره استعمال شوے دے چې وړومبے سردار د سر لرونکي او دويم د مشر په معنیٰ دے.

## صنعت تجنيس مضارع

په شعر يا کلام کښې دوه داسې الفاظ راوړل چې د حرفونو تعداد ئې يو هومره وي خو يو حرف پکښې مختلف وي. د رحمان بابا دغه شعرونو کښې ئې استعمال شوے دے:

هسې نه چې زما يار واړه جفا کا
صد چندرن لکه جفا هومره وفا کا۱۰

که د درستې دنيا غم مې په سر بار وي
واړه سهل دي که يار راسره يار وي۱۱

په وړومبي شعر کښې د جفا او وفا الفاظ راوړلے شوي دي او په دويم شعر کښې بار او يار چې د تجنيس مضارع ښکلي مثالونه دي. يا لکه د رحمان بابا په دې شعرونو کښې د خار او يار الفاظ او ګوش او هوش الفاظ راغلي دي.

چې په سترګو کښې ئې خار وي څۀ به خوب کا
چې په زړۀ ئې غم د يار وي څۀ به خوب کا۱۲

مدعي چې په زړۀ ورشي هغه وائي
ګوش او هوش د محبانو په ګفتار کړه۱۳

## صنعت تجنيس مرکب:

په کلام کښې دوه لفظونه راوړل چې په حرفونو او ترکيب کښې سره برابر وي، خو يو لفظ مفرد او بل مرکب يعنې د دوؤ کلمو د ترکيب نه جوړ وي، تجنيس مرکب ورته وائي:

د رحمان بابا دا شعر ئې غوره مثال دے:

لکه کاندي په کوترو نظر باز
هسې زهٔ يم د دلبرو نظر باز۱۴

وړومبۍ مصرعه کښې نظر باز مرکب دے، د "نظر" او "باز" څخه او دويمه مصرعه کښې مفرد دے. چې د کتونکي په معنیٰ راغلے دے.

## صنعت تجنيس مَطرف:

کله چې په شعر کښې دا صنعت واقع شي نو د دواړو مصرعو قافيه خو درسته وي خو د حرفونو په تعداد او وزن کښې ئې فرق وي. د رحمان بابا دا شعر د دې صنعت غوره مثال دے:

ژوندي کاندي د دنيا کاروبارونه
په مړو پرېواتهٔ د خاورو انبارونه۱۵

په دې شعر کښې "کارونه" او "انبارونه" لفظونه د حرفونو او وزن تر مخه برابر نهٔ دي.

## صنعت تجنيس زائد

په کلام کښې داسې لفظونه راوړل چې يو د بل نه په يو حرف سره زيات يا کم وي، تجنيس زائد ورته وائي. د رحمان بابا په دې شعرونو کښې ئې ګڼلے شئ:

د شنهٔ رود په غاړه ناست سرود په لاس کښې
هر مطرب لکه بلبل هسې ګويا دے۱۶

چې ئې پور د مرګ ته پوره لا بدتر دے
هغه توبه د بېلتانهٔ له بده پوره۱۷

کم خوراک سړے نزدې کړي فرښتو ته
هر سړے چې بېسيار خور شي بېسيار خوار شي۱۸

په دغه شعرونو کښې د "رود" او "سرود"، "پور" او "پوره" او "بېسیاخور" او "بېسیا خوار" په مېنځ کښې د یو حرف کمے زیاتے دے.

### قلب بعض

په شعر کښې دوه داسې الفاظ راوړل چې حرفونه ئې یو شان وي خو د حرفونو ترتیب ئې د یو بل نه بدل وي قلب بعض ورته وائي. د رحمان بابا دغه شعر ئې ښکلے مثال دے:

علم وکړي هېڅ عمل وربانديې نۀ کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي۱۹

په دې شعر کښې الفاظ "علم" او "عمل" کښې حرفونه یو هومره او یو شان دي خو د حرفونو ترتیب ئې د یو بل څخه جدا دے. یا لکه په دې شعر کښې لفظونه جمال او مجال:

ستا په مخ کښې چې حساب د جمال نشته
ځکه ما څخه د صبر مجال نشته۲۰

### قلب مستوي

په دې قسمه صنعت کښې داسې الفاظ راوړلے کېږي چې د دواړو ډډو نه یو شان لوستے شي.
لکه د رحمان بابا په دغه شعر کښې لفظ "نادان":

دانایان به د رحمان په قال پوهېږي
دلته کار د هر نااهل و نادان شته۲۱

### صنعت اقتباس

په اشعارو کښې د قرآن و حدیث ځینې الفاظ راوړل صنعت اقتباس بللے شي. لکه چې د رحمان بابا په دې شعر کښې ئې کتلے شئ:

سخي هر يو د خدائے دوست دے - و لو كان فاسقا
هر بخيل د خدائے دښمن دے - ولو كان زاهدا۲۲

دغه شعر د ذواللغتين يا ذواللسانين، مُلَمَّع او تلميح هم ښۀ مثال دے. دغه رنګ د صنعت تضمين هم غوره مثال کېدے شي.

## سياق الاعداد / سياقة الاعداد

سياق الاعداد په شعر يا كلام کښې د عددونو ذکر کولو ته وائي، په ترتيب وي او که بې ترتيبه. د رحمان بابا په دغه شعر کښې د "زر" او "سل" اعداد راغلي دي چې د سياقة الاعداد غوره مثال دے:

که زر سل کاله ئې تېر شي په اوبو کښې
په نرمۍ به نرمه نشي وچه تاره۲۳

يا

که د نفس دپاره سل محنته اوکړې
يو محنت به دې پکار نشي فردا۲٤

## صنعت ترافق

که په يو شعر کښې دواړه مصرعې خپل ځائے بدل کړي يعنې اولنۍ مصرعه دوېمه او دوېمه مصرعه اولنۍ شي او په تسلسل او معنیٰ کښې ئې فرق رانشي نو دا به صنعت ترافق وي. لکه د رحمان بابا دا شعر:

هغو بيا موند سعادت په دا دنيا
چې ئې اوکړ قناعت په دا دنيا۲۵

**صنعت ترصیع**

په یو شعر کښې اکثر یا ټول الفاظ په خپلو کښې هم سجع یعنې هم وزن یا هم قافیه راوړلو ته صنعت ترصیع وائي. مثال ئې د رحمان بابا دغه شعر دے:

په حالت د عاشقانو نظر بویه
په زیارت د شهیدانو ګذر بویه۲۶

په دغه شعر کښې حالت او زیارت، عاشقانو او شهیدانو او نظر او ګذر هم وزن او هم سجع دي.

**معنوي صنعتونه**

**صنعت لف و نشر**

په شعر کښې د یو مناسبت څیز ذکر کولو نه پس داسې نور څۀ څیزونه ذکر کول چې وړومبنیو سره ئې څۀ تعلق او مناسبت وي صنعت لف و نشر بللے شي. د شعر هغه برخه چې وړومبي څیزونه پکښې ذکر شوي وي "لف" او دویمه برخه چې د وړومبیو څیزونو متعلقات پکښې راوړلے شوي وي "نشر" بللے شي.

صنعت لف و نشر مرتب او صنعت لف و نشر غیر مرتب:

که دغه متعلقات په ترتیب سره راوړلے شي نو صنعت لف و نشر مرتب ورته وائي. او که بې ترتیبه یعنې وړاندې وروستو راوړلے شي نو صنعت لف و نشر غیر مرتب ورته وائي. د رحمان بابا د کلام نه د صنعت لف و نشر مرتب څو مثالونه:

ما چې خال دا ستا د وروځو په میان اولید
نۀ بل هسې رنګ امام شته نۀ محراب۲۷

په دغه شعر کښې خال ته د امام او وروځو ته د محراب نسبت شوے دے. یا

چې و هجر و وصال ته ئې نظر کړم
یو دوزخ دے بل ګلزار دے نور څۀ نشته۲۸

په دې شعر کښې د هجر و وصال په مناسبت سره دوزخ او ګلزار په ترتیب سره راغلي دي. د رحمان بابا د کلام نه د صنعت لف و نشر غیر مرتب مثال:

روښنائي مې د چشمانو ستا دیدن دے
په دا کور کښې بل چراغ و مشال نشته۲۹

په وړومبۍ مصرعه کښې روښنائي او بیا چشمان لفظ راغلے دے او په دوېمه مصرعه کښې د روښنائي دپاره چراغ او چشمانو دپاره کور لفظ په مناسبت کښې راوړے شوے دے. ولې په ترتیب کښې نۀ دے راغلے.

### صنعت مراعات النظیر

په کلام کښې د یو څیز ذکر کول او بیا ورسره د هغې څیز په مناسبت د نورو څیزونو ذکر کول صنعت مراعات النظیر بللے شي. دې ته تناسب، توفیق، تلفین او ایتلاف هم وائي. رحمان بابا په خپل کلام کښې دې صنعت ته دغسې ځائے ورکړے دے:

چې په آب و په آتش په خاک و باد وي
څۀ امید دے په هغې زندګانۍ۳۰

آب، آتش، خاک او باد د زندګانۍ دپاره راوړے شوي دي.

### صنعت ارسال المَثَل

په کلام یا شعر کښې متل یا نقل په خاصه طریقه راوړلو ته صنعت ارسال المثل وائي. دې صنعت ته ابداد المثل هم وائي. رحمان بابا په خپل دې شعرونو کښې دا متلونه استعمال کړي دي:

سر دپاسه سر وي – وړومبے د وروستي پل دے.
هسې مه وایه چې زۀ یم په جهان کښې

پېدا کړے خدائے د سر دپاسه سر دے۳۱

تل ورومبے د وروستي پل دے پرې تېرېږي
کړے نۀ دے چا په پل باندې قرار۳۲

**صنعت تنسيق الصفات**

صنعت تنسيق الصفات چې ورته صنعت اعداد هم وائي هغه صنعت دے چې په يو کلام کښې د يو څيز ګڼ صفتونه بيان شي. مطلب شاعر په خپل کلام کښې څو صفتونه پرله پسې راوړي.

لکه د شونډو د وصف په ضمن کښې د رحمان بابا دغه شعر د لوستو دے:

لب دې آب حيات دي، يا شکرې يا نبات دي
يا خو زۀ غلط يم تر همه واړو بهتر دي۳۳

**صنعت استدلال**

په شعر يا کلام کښې خپله دعوىٰ په دليلونو سره وړاندې کولو ته صنعت استدلال وائي. لکه د رحمان بابا په دغه شعر کښې ئې ليدلے شئ:

که دې مخ په زلفو پټ وي باک ئې نشته
د حيات اوبۀ هم پټې په تورتم دي۳٤

**صنعت جمع**

په شعر يا کلام کښې څو څيزونه په توصيفي لحاظ سره راجمع کول يعنې ډېر څيزونه د يو حکم لاندې راوستل صنعت جمع بللے شي. لکه د رحمان بابا دا شعر:

مخ د يار شمس و قمر درې واړه يو دي
قد و سرو صنوبر درې واړه يو دي۳٥

## صنعت عکس

صنعت عکس چې ورته د قلب صنعت هم وائي هغه صنعت دے چې د کلام ځينې کلمات مخکښې او ځينې وروستو راوړلے شي. لکه چې رحمان بابا فرمائي:

سر زما سامان زما ځار شه تر جانان زما
ځار شه تر جانان زما سر زما سامان زما۳۶

## صنعت تلميح

په شعر يا کلام کښې يوې تاريخي يا مذهبي واقعې يا قيصې ته اشاره کول صنعت تلميح بللے شي. لکه د رحمان بابا دغه شعرونه:

په ژړا ژړا تر هسې حده راغے
چې ځان ړوند کړو په يوسف پسې يعقوب۳۷

څوک له زمکې و اسمان وته ختے شي
دۀ عيسیٰ لره ورکړے دا مکان دے۳۸

## صنعت حُسن مطلع

حسن مطلع دې ته وائي چې شاعر د خپل کلام وړومبے شعر په داسې خوږو، خوند ناکو او زړۀ راښکونکو الفاظو سره شروع کړي چې ويونکے يا لوستونکے دې ته مجبوره کړي چې پوره غزل يا نظم اووائي يا ئې واوري. لکه د رحمان بابا د غزلونو دغه مطلعې:

پورته بدر راښکاره شو ښکته نمر
ښکته پورته واړه مخ دے د دلبر۳۹

هيڅوک مه شه ګرفتار د تورو زلفو
مه اسير شه په کفار د تورو زلفو۴۰

## صنعت حُسن مقطع

د غزل یا نظم اخري شعر چې بغېر له کوم شرط او نیمګړتیا سره په مناسب ډول داسې قطع شي چې د لوستونکي یا اورېدونکي تنده پرې ماته شي، حُسن مقطع بللے شي. لکه د رحمان بابا د غزلونو دا قطعې:

ستا له غمه په ځان زړۀ د رحمان سوزي
لکه شمع په زیارت د شهیدانو٤١

زۀ رحمان خلقه بکوش د هر عالم یم
که اعلیٰ دے که اوسط دے که ادنیٰ٤٢

## ماخذونه


۱: مومند، قلندر، صحرائي، فرید، دریاب، امید پرنټرز دربار مارکیټ لاهور، ١٩٩٤ء/ ١٤١٥ھ، مخ ١٣١
۲: ارشاد، اورنګزیب، بدیع او د پښتو شعر، دانش کتاب خانه، جنګي محله پېښور، میزان- ۱۳٦۹ھ ش، مخ ۱
۳: انور، انور خان، د علم و ادب خزانه، اعراف پرنټرز محله جنګي، پېښور، مارچ ۲۰۱۸ء، مخ ۷۵
۴: خټک، فضل میر، فضلیات (د پښتو ادبي اصطلاحات) ١٩٩٩ء، مخ ٧٦
۵: یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، تاج پرنټنګ پرېس، پېښور، جون ١٩٩٨ء، مخ ٥٠
٦: خټک، فضل میر، فضلیات، مخ ٧٧
۷: کلوروي، صابر، ډاکټر، عروض و بدیع، علمي کتابخانه، اردو بازار لاهور، منظور پریس لاهور، ۲۰۰۱ء، مخ ٣٤
۸: عبدالرحمان بابا، د رحمان بابا کلیات، محکمه ثقافت صوبه سرحد، چاپړے پېښور، ۱۹۹۰ء، مخ ۲۸۱
۹: هم دغه اثر، مخ ٥٧
۱۰: هم دغه اثر، مخ ۱۹
۱۱: هم دغه اثر، مخ ٣١٤
۱۲: هم دغه اثر، مخ ۱۹
۱۳: هم دغه اثر، مخ ٢١٤
۱۴: هم دغه اثر، مخ ۱۰۳

۱۵: هم دغه اثر، مخ ۲۳۸
۱۶: هم دغه اثر، مخ ۳۳٤
۱۷: هم دغه اثر، مخ ۳۰۹
۱۸: هم دغه اثر، مخ ۲۸۸
۱۹: هم دغه اثر، مخ ۳٦٦
۲۰: هم دغه اثر، مخ ۱۹٤
۲۱: هم دغه اثر، مخ ۱۹٦
۲۲: هم دغه اثر، مخ ٥۱
۲۳: هم دغه اثر، مخ ۲۱۱
۲۴: هم دغه اثر، مخ ۱٤
۲۵: هم دغه اثر، مخ ٤۸
۲۶: هم دغه اثر، مخ ۲٤۸
۲۷: هم دغه اثر، مخ ٦۱
۲۸: هم دغه اثر، مخ ۱۹٦
۲۹: هم دغه اثر، مخ ۱۹٤
۳۰: هم دغه اثر، مخ ۲٦۸
۳۱: هم دغه اثر، مخ ۳٤۲
۳۲: هم دغه اثر، مخ ۹۲
۳۳: هم دغه اثر، مخ ۲٦۹
۳۴: هم دغه اثر، مخ ۲۷۲
۳۵: هم دغه اثر، مخ ۲۷٦
۳۶: هم دغه اثر، مخ ٤۰
۳۷: هم دغه اثر، مخ ٦٥
۳۸: هم دغه اثر، مخ ۳٥۲
۳۹: هم دغه اثر، مخ ۹۰
۴۰: هم دغه اثر، مخ ۱۷۸
۴۱: هم دغه اثر، مخ ۱۷۷
۴۲: هم دغه اثر، مخ ٦۰